مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۰/۰۴/۰۵

# دې انساني کوروناګانو سره څه وکړو موږ؟

شین فصل تور شو

کورونا راغله، بلا راغلله

هـر چا تـه خـپل کـور، خـپله ځـاله زندان
څوک خپل اولاد، څوک خپل مین ته حیران

هر چا ته خپل ځان دوښمن

اوس يې حکیم، اوس يې طبيب سره چاره هم نه شته
لـړې د ویـر خـورې، سـپـوږمی او ستاره هم نه شته

دې کـورونا سره کېدای شـي ګـوزاره هـم وکـړو
دوعـا د پـیـر، ځانښت و تـعویز اسـتـخاره هم نه شته

د هــر چا خپله، خپـله رایــه ده چې هر څه وایي
اوس شوه ثــابـتـه چې تـر مـوږ بل بېچاره هم نه شته

شین فصل تور شو

کورونا راغله، بلا راغلله

هر چا ته خپل کور، خپله ځاله زندان

دې کـورونا سره کېدای شـي ګـوزاره هـم وکـړو

دې انساني کوروناګانو سره څه وکړو موږ؟

۲۰۲۰/۰۳/۲۹
هیدرسلیف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپلې ليکنې له راليږلو مخکې په ځير و لولئ